خدای شته په خپلو کښې څه پس پس کوي
ځانونه غلي کړي چې ما او وويني
څه رازداري خو شته د مور او د لور

○

زه چې د سیند څپو ته ګورمه نو
راشي په سترګو مې لاسونه کښېږدي
وائي څه او وایه چې څوک یمه زه

○

ښه روغ رمټ یم چې بهر یمه زه
کور ته چې راشم نو بې حاله شمه
چا جوړ په ما باندې تاوید کړے دے



دا حقیقت د چا نه پټ خو نه دے
درنګ سپېږلو پسې ړندېږو څکه
موږ په صحرا کښې اوبه څوړ کړے دے

○

موږ به سپوږمۍ ته وو پخوا ختلي
افسوس خو دا دے چې زموږه د کور
درشل که اوړېږي، دیوال پرېوځي

○

ښکرې په اېچو کښې په خیال ښر ګوره
چې په سینه کښې مې غورځنګ راشي نو
په دریابونو کښې کشتۍ لاهو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مینې تېرې
په هر قدم غوڅوي
د عاشقو چړې

اور کښې انغښتې
ستا تصویرونه گورم
خوب رانه تښتي

کور ته دې نږدې
ژړنده د سوال پیاله ده بو
چرته کښې گرځي



په تال چې ځانگي
ځنې زړه ستړې پېغلې
اور ته وردانگي

څه چې دې ښکل کړم
خدائے شته د هرې سیمې
خاورې به گل کړم

نیت دې خراب دے
گنې نو هر وګړے
گل د گلاب دے

Scanned by CamScanner

زهٔ تقاضې دَ محبت پسې ژړنم
شېرینې څنګ کښې مې ویرېږې څله
پاخهٔ رنګونه په اوبو کښې نهٔ ځي

○

اوواڼې دومره نادیدکه نهٔ یم
خو اوږې سترګې زمانه چې وینم
دَ سرو چاړهٔ په لړمانه منډمه

○

جوړې دستور نوے کوي وختونه
ما خو مېږے هم ازار کړے نهٔ دے
دَ کلي خلق مې په څهٔ قتلوي



زهٔ دې له ښکار منې کومه نهٔ خو
هسې له تا نه یو تپوس کومه
ستا په سرخکو باندې زړهٔ نهٔ سوزي؟

○

ډېر په بې ځایه وخت دې اورټلم
داسې لالکل شومه شېرینې زما
لکه چې بانګ نهٔ څوک بانګي اوشړي

○

تهٔ نه له لوږې نهٔ مړ شوے نهٔ وے
ښکاري! ښکاره بې انصافي دې اوکړه
مارغانو جالو کښې بچې راوړې وو

